**The Lighthouse Journal of Literature & Linguistics, Vol. 01, Issue 02, Winter 2022, pp. 45-56**

# د رحمان بابا په کلام کښې د محاورو یوه تجزیه

شهاب عزیز ارمان[1]

## ABSTRACT

*Rahman Baba, the classic of Pashto literature is a reputed, renowned and versatile poet known all over the world. He deserves his poetic place in the first row of the world classics. Being the poet of humanity, love and beauty, a variety of thoughts is lying in his poetry. Up to now a fruitful literature has been written on the subjects of his poetry but the artistic side of his work is ignored to some extent. The critics have not paid so much heed to this aspect. Writing about the techniques, art, rhythm, spontaneousness and lingual beauties of Rahman Baba is a very time consuming research. In this research paper only one aspect of his artistic beauty which is the usage of idioms is discussed with reference to examples from his poetry. The idioms that he has used in his poetry are critically analyzed. The idioms that he used show that he was not a saint sitting in a side of a hut rather he was a man full of life who spent all his time within his people because most of the idioms he used, show his near relation with life and its dimensions. In this regard his command on language and linguistics is worth praising. It is a very interesting and important artistic side of his poetry, needs to be discussed elaborately in a separate book.*

***Keywords:*** *Rahman Baba, Pashto Literature, Idioms*

لکه زهٔ چې سخندان او هنر مند یم
بل به نهٔ وي سخندان او هنر مند

د عبدالرحمان بابا کلام کښې د سخن او هنر بې شماره منفردې ملغلرې شته. تر دې وخته د رحمان بابا د کلام په موضوعاتو یا په نورو لفظونو کښې په فکري اړخونو ډېر څهٔ لیکلے شوي دي خو د فني اړخونو په اړه لا ډېره تنده محسوسېږي. د بابا د شاعرۍ په بابله یو عام خیال او رجحان دا دے چې د رحمان بابا کلام سادګي او عام فهمي لري. دا خبره په خپل ځائے خو د رحمان بابا په کلام کښې چې په کومه سطحه هنري خوبۍ، فني باریکات او موشګافۍ دي نو هغه په بشتړه توګه تحقیق ته اړتیا لري. همېش خلیل که رحمان بابا ته د پښتو اولین او آخرین شاعر[1] وائي نو په حق لري ځکه چې د رحمان بابا فکري علویت، سخنداني، هنري ښکلا او فنکاري د یاد دانشور د دغه دعوې د وثوق او صداقت د پاره پېش کېدے شي. د رحمان بابا په شاعرۍ کښې چې د بدیع، بیان او ژبنیو تلازمو کوم رعایت او خیال ساتلے شوے دے نو هغه که یو طرف ته په خپله

[1] پښتو لکچرر، ګورنمنټ سُپیریئر سائنس کالج پېښور

**Corresponding Author's Email: shahabaziz8@gmail.com**

Manuscript Received: May 25, 2022
Manuscript Accepted: 14 Dec, 2022

یو مثال دے نو بل خوا د بابا په فنکارۍ، علمیت، سخندانۍ او هنرمندۍ هم یو بنیادي دلیل دے. دا هم هغه کمال دے چې د رحمان بابا شاعرۍ ته ئې د ایجازواختصار ښکلاګانې وربخښلې دي. د رحمان بابا د شعر د ډېرو هنري او فني خاصیتونو نه یو خاصیت د بابا په کلام کښې د پښتو محاورې هم دے چې دلته پرې د څېړنې د غوښتنې مطابق بحث کووم.

محاوره د عربۍ ژبې ټکے دے چې لغت کښې ئې معنیٰ مشق، خبرې کؤل او مهارت ده. د یوې اصطلاح په حېثیت محاوره دوؤ یا دوؤ نه د زیاتو ټکو هغه نیمګړې فقره ده چې د حقیقت په ځائے مجازي معنیو کښې پکارېږي. د محاورې معنیٰ هله واضحه شي کله چې دا په فقره کښې پکار کړے شي.

"د دي اطلاق په هغه فعلونو کیږي چې اسم سره په شریکه مجازي معنا ولري"[2].

ثابته شوه چې د خپل ځان په څرګندتیا او معنویت کښې محاوره د نورو ټکو محتاجه وي. د دې برخلاف د متل خصوصیت دا دي چې هغه یوه جامع او معنوي جمله وي چې د خپل ځان په وضاحت کښې نورو لفظونو ته احتیاج نۀ لري. دې سره یو کائناتي حقیقت پکښې پټ وي. امروزې یا روزمرې سره د محاورې توپېر دا وي چې امروزه په حقیقي معنیو کښې پکارولے شي او محاوره په مجازي معنیو کښې. کله چې مونږ ټکي په مجازي معنو کښې استعمال کړو نو دا محاوره وي او که هم دغه ټکي په خپله اصلي معنیٰ کښې پکار راولو نو دا بیا روزمره شوه لکه "د سترګو رپ" امروزه ده. دغه شان د رحمان بابا یو شعر کښې "سُوک په سترګو" ټکے راغلے دے:

له فراقه چې ئې آه کړم
سُوک په سترګو
یو لستونے مې ګردباد وي
بل ګرداب

محاوره د یو قوم د ذهني ارتقا او فکري بلوغت آئینه دارې وي. محاورې او روزمرې په یوه ژبه او ادب کښې مونږ ته د شته منۍ درک راکوي. په دې ضمن کښې پروفېسر داؤر خان داؤد داسې لیکي:

"د یوې ژبې او ادب د شته منۍ پته د هغه ژبې د شاعرانو او لیکوالو په شعرونو کښې د محاورو او امروزو د استعمال نه په اسانه لګي. په شعر کښې څۀ نه څۀ ابهام هم ضروري دے چې لوستونکے په سوچ فکر مجبور

کړي. په نظم او نثر کښې يو څرګند توپير دا دے چې معنیٰ په الفاظو، شعري صنعتونو په محاورو (امروزو) او په فني او شعري نزاکتونو کښې قلا بند وي. د دې قلا ور پرانستل معنا ته رسيدل دي"[3].

په دې لړ کښې د ډاکټر راج ولي شاه خټک خيالات هم د لوستلو سره تعلق لري:

"محاوره په اصطلاح کښې د مورنۍ ژبې د بيان د اسلوب نوم دے. دا په نورو ژبو کښې دوه يا د دوو نه زيات ټکي لري خو پښتو کښې يو ټکے يا يو نوم هم محاوره کيدے شی. که څۀ هم داسې ټکي د فعل تر معنيو راوستلو د پاره د بل ټکي احتياج لري. محاوره په اصل کښې د خپلې لغوي معنې نه پرته څۀ اصطلاحي يا مجازي معنې ورکوي. محاوره د ژبې ښائست وي"[4]

محاوره د ژبپوهنې يوه غېر معمولي برخه ده ځکه د دې د اهميت نه انکار ممکن نۀ دے.

"که څوک د ژبې لغات، ګرامر زده کړي، د هر قسمه مضمون ادا کولو توان هم ولري خو چې په محاوره نۀ پوهېږي نو مطلب او مقصد په صحيح طريقه ادا کول ګران شي. په يوه ژبه مهارت د پاره په محاوره پوهېدل ډېر اهميت لري ځکه چې دا په مجازي معنيو کښې استعمالېږي او د حقيقي معنيو نه ډېر لرې مطلب لري. محاوره د لسانياتو اهمه برخه ده او په لږو ټکو ډېر مطلب ادا کول دي"[5]
.

د محاورو د ارزښت په حواله پروفېسر افضل رضامرحوم داسې ليکي:

"ہر زبان کے الفاظ، لغات اور قواعد عموماً محاوروں کے تابع ہوتے ہیں۔ محاوروں کی اہمیت کا اندازہ اس سے لگایا جا سکتا ہے کہ کسی لغت یا لفظ اصلی اور وصفی معنی تک محاورہ تبدیل کر لیتا ہے"[6]۔

(ترجمه): د هرې ژبې ټکي، لغتونه او قواعد په عامه توګه د محاورو پېروي کوي. د محاورو د اهميت اندازه د دې نه لګېدے شي چې د يو لغت يا اصلي لفظ او وصفي معنې پورې بدلول محاوره کولے شي .

د ژبپوهانو او ماهرینو د لیکنو تر مخه د محاورې بیلابیل قسمونه مقرر شوي دي چې د ځینې لیکونکیو په وسیله تر مونږ رارسیدلي دي. په دې قسمونو کښې تشبیهي، استعاراتي، تهذیبي، روایاتي، مذهبي، عددي، فلکیاتي، کیفیاتي،نباتاتي، مشاهداتي،حیواني، د رسم و رواج محاورې او ساده محاورې شاملې دي[7]. دې نه سېوا د زراعتي(معاشي)، ملي، اخلاقي او اجتماعي محاورو په شکل هم د محاورو تقسیم شوے دے[8].

د رحمان بابا په شاعرۍ کښې تقریباً د محاورې د دې همه اقسامو نمونې شته چې زۀ ترې د طوالت له کبله ځان ژغورم. عبدالرحمان بابا د دې محاورو استعمال په ډېر معنوي او فني بڼه کړے دے. د ضرورت په بنیاد ئې د محاورې استعمال په داسې طرز کړے دے چې لوستونکے ئې د هنر قائل او ستایونکے شي. د رحمان بابا د شاعرۍ دا فني پهلو دومره اهم او روڼ دے چې ډاکټر راج ولي شاه خټک دا د یو پوره ځانګړي کتاب متقاضي موضوع ګڼي.[9]

د پښتو محاورو برجُسته او بې ساخته استعمال د رحمان بابا په فني مهارت او قادرالکلامۍ دلیل دے. بابا په محاوره کښې د ضرورتِ شعري تر مخه خپله فنکاري او هُنرمندي ښودلې ده چې ډاکټر راج ولي شاه خټک مرحوم ئې صفت دا شان کوي:

> "رحمان بابا یو خوا دا کړي دي چې محاوره ئې په خپل مقام په خپل ځائے استعمال کړې ده او بل دا چې د عصر د ترقي یافته ژبو محاورې ئې یا هغه رنګ اخستې دي او یا ئې پښتو کړې دي. یو رنګ پکښې دا هم دے چې روزمره ئې په خپل فني ادراک د محاورې په ډول استعمال کړې ده. ځینې ځایونو کښې د آمد په کیفیت کښې د محاورې ایجاد هم ښکاري یا ئې رائجه محاوره بدَله کړې ده ولې دې عمل هم د رحمان بابا کلام ته خوند بخښلے دے"[10]

د حیرت خبره دا ده چې په خپله مذکوره مقاله کښې ډاکټر راج ولي شاه خټک مرحو "زبېرګي ختل یا زبېرګي کول" او دغه شان "ونو بوټو ته لاس اچول" محاورې ګڼي. حالانکې چې د دې وېناګانو حقیقي شکل شته او دا په حقیقي معنیو کښې پکارېږي نه چې په مجازي کښې نو بیا دا محاورې نه بلکې روزمرې دي. ډاکټر صاحب چې په حوالو کښې د رحمان بابا کوم شعرونه راوړي دي د هغې د متني مطالعې نه هم

ځرګندېږي چې د دې استعمال د امروزې په طور شوے دے نه چې د محاورې په طور. مرحوم ډاکټر صاحب په يو مقبول او اهم شعر د تبصرې په وخت کښې داسې ليکي:

> " د متلونو په ځينو مجموعو کښې محاورې د متل په توګه راوړے شوې دي حالانکه محاوره، متل او مقوله بېل بېل دي. په اولسي ژبه کښې يواځې متل پېژندلے شي ځکه نو پښتانه محاورې ته هم اکثر متل وائي چې مراد ترې هم هغه محاوره وي . رحمان بابا هم د اولس په ژبه کله کله محاورې ته د متل تکے پکاوري:
>
> دا متل دے چې له درده
> زبېرګي خيژي
> ګڼه ځۀ وو د رحمان له
> شاعرى" [11]

مستندو ديوانونو کښې دغه شعر دا شان دے:

> دا دستور دے چې له درده
> زګېروے خيژي
> ګڼه ځۀ وو د رحمان له
> شاعرى [12]

"دا دستور دے" لفظونه زيات ثابت، په ځائے او خوندور دي ولې مرحوم څېړنکار "دا متل دے" لفظونه راوړي دي او خپل دغه الفاظ سم هم ګڼي خو د شعر وروستے شکل زيات معنوي دے. دوېمه دا چې د بابا علميت د هغۀ د کلام نه معلوم او ثابت دے. د عوامو په شان محاورې ته متل وئيل د دومره سکالر او باريک بين شاعر او د ژبې په باريکيو پوهه ليکونکي له خوا درست نۀ لګي او بيا مستند ديوانونه د "دا متل دے" لفظونو پره او طرف نۀ کوي.

د رحمان بابا په شاعرى کښې د استعمال شوو ډېرو محاورو نه څۀ مثالونه سره د لږ وضاحت په دې مقام پېش کووم:

زمکه تاودېدل:
د مشکل او تکليف په وخت کښې دا محاوره پکارېږي. د ژوند حالات که په کومه حواله هم داسې سخت او شي چې د خوشحالى عوامل پکښې ختم شي نو په داسې حال کښې د دې محاورې استعمال ډېر بر محل وي:

په توده زمکه استوګه ده
مشکله
څۀ به زیست شي له رحمان
سره د چا[13]

د هوا په اس سوریدل:
د ناممکنو کارونو او تېزی او تادی کولو د پاره دا محاوره په کار راوستلے شي.

د حباب کُلاه په سر
کړه
سور په اس شه د
هوا[14]

په هوا سورلي کول/ په هوا سورېدل/ د باد په شا سورلي:
دا محاوره هم د نامکنو او ځان له د فرېب ورکولو په اړه په کار راوستلے شي.

د آسمان توسن هیچا نۀ
دے تېزلے
څوک به څۀ رنګه
سورلي د باد په شا
کا[15]

سترګو کښې خار کېدل/ د سترګو ازغے جوړیدل:
یعني د چا د پاره د مشکل او تکلیف سبب جوړیدل.

چې په سترګو کښې ئې
خار وي څۀ به خوب کا
چې په زړۀ ئې غم د یار
وي څۀ به خوب کا[16]

تر هغه حده په هورته بد سړے
شوم
چې د درست جهان په سترګو کښې
ازغے شوم[17]

زړۀ بائېلودل:
بې حوصلې او بې همته کېدل. د دې محاورې یو بل صورت چا سره د محبت پېدا کېدل هم وي. په دغه وخت کښې هم دا محاوره د ضرورت تر مخه په کار راوستلے شي. راتلونکي شعر کښې هم په دغه دوېمه معنیٰ کښې دا محاوره پکارؤلے شوې ده:

هر چې زړۀ ئې وي په يار باندې
بائيلوے
نوره مينه په چا بې له آشنا
نۀ کا 18

په سر لمبې بليدل:
د غصه کېدلو او انتهائي تکليف رسېدلو په وخت دا محاوره وئيلے شي.

عاشقى مې په زړۀ وکړلو
اثر بيا
بېلتانۀ مې لمبې بلې کړې په
سر بيا 19

مخ تورول/ مخ توريدل:
يعني ملامت، تهمت، بې عزتي کېدل، خوار خجل کېدل.

حجاب واخله مخ کړه تور د هغو
خلقو
چې تحسين کړه ستا په مخکښې د
آفتاب 20

د همه واړو يارانو دې مخ تور
شي
که به څوک وبله ياري کا په دا
شان 21

خولۀ په خاورو ډکېدل:
يعني قبر ته رسېدل او دفن کېدل.

تن سپېرۀ په خاورو ډکه خولۀ
بهتر يم
چې آخر مې دا خوراک دے دا
پوشاک 22

مخ رونېدل:
د کاميابى او سُرخرويى په وخت دا محاوره وئيلے شي.

مخ روني ده د هر چا په
خپلو اوښکو
په دا نۀ شي چې ئې مږي
په رومال څوک
بې ښۀ خوئي به مخ روني د هېچا
نۀ شي
که هر څو ئې پاکيزه کړي په
روئمال څوک 23

ملا تړل:
د يو کار د پاره تياريدل او چمتو کېدل:

زغـره واغونده ملا وتړه په جنګ
دغـه پسه معرکه کوه د ننګ24

لمن انغښتل:
خلقو نه یو خوا ته کېدل او ډېر راشه درشه نۀ ساتل، تعلق او اړیکي نه ساتل:

تمامي جهان لمن راټخه نغاړي
سپین زړوکي مې اغوستي تور
کودے شو م25

د پوزې پړے جوړېدل/ د پوزې پېزوان کېدل:
د ځینې ځناور په پوزه کښې پړے پېزوان وي نو دا محاوره هم له دغه رویه نۀ پرېکېدونکي تعلق د پاره پکارېږي. د دې استعمال اکثر له په منفي طور کؤلے شي:

بې له عشقه چې مې پړے شو
د پوزې
ګنه نور له جملګي قېده آزاد
یم26

خاورې غلبېل کول:
د لټون او تلاش په معنیٰ کښې دا محاوره استعمالولے شي. ولې دا خبره هم د یادؤلو وړ ده چې که خاورې غلبېل کول په خپلو اصلي معنیو کښې پکار کړے شي نو بیا به دا امروزه وي. البته دلته محاوره ده:

که غلبېل کړم د تمامي دنیا
خاورې
بیا به نۀ مومم دارا او شاه
جهان27

لاسونه شنۀ کېدل/ غوږ تاوول:
که څوک یو چا ته تکلیف ورسوي او په دغه تکلیف په خپله هم ستړے شي، په تکلیف کښې شي نو په داسې وخت کښې دغه محاوره پکارؤلے شي. په را روان شعر کښې دویمه محاوره "غوږ تاوؤل" ده. چونکې غوږ تاوؤل د سزا نه کنایه ده څکه د سزا ورکؤلو په وخت دا محاوره پکار راوستلے شي او د فن کمال هم دا دے چې دوه محاورې په یو شعر کښې په فني پېرایه کښې پکار شوې دي:

هر ساعت زما د غوږ په تاوؤلو
د آسمان لاسونه شنۀ شو تر
څنګلو28

زړۀ سوزېدل:

دا محاوره اصل کښې دوؤ صورتِ حالو کښې پکاريږي . يو زړۀ ته تکليف رسېدل او دويم د همدردئ پيدا کيدلو په وخت. راتلونکي شعر کښې د دې معنا هم د همدردئ پېدا کېدلو ده:

ستا د لاسه په ځان زړۀ د
رحمان سوزي
لکه شمع په زيارت د
شهيدانو29

بازار ګرمېدل:
مطلب دا چې بازار خپلې انتها او جوبن ته رسېدل. چې کله اختل او خرڅول ښۀ په درز کښې وي نو په دغه وخت د بازار ګرمېدل محاوره پکارولے شي:

هسې ګرَم بازار بل په جهان
نشته
لکه ګرَم دے بازار د
درويشانو30

بخت ويښېدل:
يعني خوش قسمته کېدل او په قسمت کښې ښۀ وخت راتلل:
د رحمان بخت به هاله له
خوبه ويښ شي
که تۀ سترګې ورته پورته
کړې له خوابه31

زړۀ تورېدل:
د دې مطلب دے زړۀ مړېدل. په يو څيز کښې دلچسپي او جذباتي تړون نۀ پاتې کېدل:

تاچې په دا تورو سترګو وکاتۀ
و ماته
زړۀ دې زما تور کړ له دې نوره
مخلوقاته32

مينه ماتېدل:
يعني د محبت د جذباتو تسکين کېدل يا په يو څيز باندې مکمل اطمينان حاصلېدل:

ما خو چې تۀ وليدې هغه ساعت
مې ووې
نوره به مې مينه د زړۀ نۀ شي
له تا ماته33

زړۀ يخېدل:
کله چې زړۀ ته سکون ورسي نو په هغه وخت دا محاوره پکارؤلے شي خو د دې محاورې يو منفي استعمال د بې رحمه کېدلو په

وخت هم کؤلے شي او د بابا په مذکوره شعر کښې ئې هم دغه دويمه معنیٰ پرته ده. محاوره کښې بدلون ناممکن وي ځکه چې دا د لفظونو کمے زياتے نۀ زغمي خو که دلته وکتلے شي نو د شعر د قافيائي ضرورت په اساس دا محاوره رحمان بابا په ډېر فن په خپل شعر کښې ځائے د بلې ژبې د اختلاط په مرسته ځائے کړې ده.:

د عاشق د لاغريه سبب دا دے
چې فرقه د معشوقو شوه په زړۀ
تېنده 34

په زړۀ تورېدل:
پورته خو دا ذکر شوے دے چې زړۀ تورېدل ځان له معنیٰ لري خو د "په" ټکي زياتولو د دې محاورې معنا په زړۀ کښې چاته زهرژن جذبات لرل، د نورو خلقو خلاف هڅې او منافقت کؤل دي:

چې په تور او سپين مې
اړوي دا څوک دے
که تۀ نۀ يې په مخ
سپينه په زړۀ توره 35

ږيره وښکل: په تېر کار افسوس کول، د ارمان او حسرت داسې کېفيت او حالت چې وروستو ئې ازاله او تلافي امکان نۀ لري:

چې په وقت د ځنکدن وکاږې ږيره
ترو نن ولې هسې ناست يې بې
تدبير 36

خولې ته خاورې اچؤل او خولۀ په خاورو ډکېدل:
خولې ته خاورې اچؤلو نه مراد د خپلو خواهشاتو وژل دي. په نورو لفظونو کښې خپل خواهشات نۀ پوره کؤل د دې مطلب دے. په مذکوره شعر کښې دويمه محاوره "خولۀ په خاورو ډکيدل "ده يعني مړۀ کېدل او تر لحده رسېدل:

راشه واچوه د نفس و خولې ته
خاورې
څو دې خولۀ نۀ ده د ګور په
خاورو ډکه 37

سترګې سپينېدل:
د جرات منډى د معنې سره سره دا محاوره د بې خاطره کېدلو په منفي معنیٰ کښې هم پکارېږي او په راتلونکي شعر کښې ئې هم دغه دويمه معنیٰ ده:

ځکه سپينې شوې اول د حُباب
سترګې
چې له بغضه په درياب چَوي
تناکه 38

عبدالرحمان بابا چې د خپلې ژبې د محاورې کوم ماهرانه او فنکارانه استعمال په خپل کلام کښې کړے دے، هغه ئې د پوهې او علميت، پښتون تهذيب او نفسياتو نه د واقفيت، فطري او مزاجي متانت، په ژبه د قدرت لرلو او فني گرفت او دې سره د محل او موقعې د مطابقت او موزونيت د استعمال غوره ترجماني کوي. په دې بنياد د هغۀ د نويو اجتهاداتو او شاعرانه اعجاز دعوې مصرف دعوې او فرطِ جذبات نۀ دي بلکې د هغۀ د تنقيد فهمی او شاعرانه عظمت حق بجانب دليلونه دي او د رحمان بابا د فکر، فن او منفرد زاويهٔ نظر په بابله معز الله خان مومند په حقه خپل ادبي ديانت پوره کړے دے. هغه وائي چې:

که د شعر کرامات د چا نه غوارې
معز الله د رحمان شعر کرامت دے[39]

---

## حوالې او حاشيې

1 رحمان ادبي جرگه پېښور: رحمان پوهنه (ځلورم ټوک) ، ۲۰۰۹ء مخ ۱۳۱

2 فقير محمد فقير: د علي خان په کلام کښې محاورې، مشموله مقاله درې مياشتنۍ پښتو مجله "امېل" پېښور پښتو ادبي ټولته رېگے سيمه پېښور او قلم پښتو ادبي جرگه مُلازے پېښور،(جنورې، فرورې، مارچ ۲۰۱٦ء) اتمه گڼه، مخ ۲۲.

3 داؤر خان داؤد، پروفېسر: د پښتو د امروزو او محاورو لغت سېلاب، پښتو ادبي بورډ پېښور، وړومبے چاپ ۲۰۱۱ء، مخ۷.

4 خټک، راج ولي شاه: د رحمان په شعر، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۲۰۰۳ء، مخ ۹۸.

5 فقير محمد فقير: د علي خان په کلام کښې محاورې، مخ ۲۳.

6 محمد افضل رضا: پشتو لوک ادب، اکادمی ادبيات پاکستان، اسلام آباد، اشاعتِ اول فروری ۱۹۸۹،ص ۱۱۲.

7 فقير محمدفقير: د علي خان محاورې، مخ ۲٤، ۲٥.

8 داؤر خان داؤد، پروفېسر: د پښتو د امروزو او محاورو لغت سېلاب،مخ۷.

9 خټک، راج ولي شاه: د رحمان په شعر، مخ ۱۰۱.

10 هم دا اثر، مخ ۱۰٦.

11 خټک، راج ولي شاه: د رحمان په شعر ، مخ ۱۰٤.

12 د رحمان بابا کليات (رحمان ادبي جرگه پېښور) څلورم چاپ ۲۰۰۷ء، مخ ۲٦٤.

13 هم دا کليات ،مخ۱۲

14 هم دا کليات ،مخ۱۳

15 هم دا کليات ،مخ۲۷

16 هم دا کليات ،مخ ۳۰

17 هم دا کليات ،مخ ۱٤۰

18 هم دا کليات ،مخ ۳۹

19 هم دا کليات ،مخ ٥۰

20 درحمان بابا کلیات، ترتیب، تحقیق او سمؤنه (دوست محمد خان کامل او قلندر مومند)،مخ ٦٠
21 هم دا کلیات ،مخ ١٥٩
22 هم دا کلیات ،مخ١١٤
23 هم دا کلیات ،مخ١٢٠
24 هم دا کلیات ،مخ ١٢١
25 هم دا کلیات ،مخ ١٤٠
26 هم دا کلیات ،مخ ١٤٤
27 درحمان بابا کلیات، ترتیب، تحقیق او سمؤنه (دوست محمد خان کامل او قلندر مومند)،مخ ١٥٦
28 هم دا کلیات ،مخ ١٦٤
29 هم دا کلیات ،مخ ١٦٦
30 هم دا کلیات ،مخ ١٧٢
31 هم دا کلیات ،مخ ١٧٧
32 هم دا کلیات ،مخ ١٨٠
33 هم دا کلیات ،مخ ١٨٠
34 هم دا کلیات ،مخ ١٨٣
35 هم دا کلیات ،مخ ١٨٩
36 هم دا کلیات ،مخ ١٨٩
37 هم دا کلیات ،مخ ١٩٣
38 هم دا کلیات ،مخ ١٩٤
39 داؤد، داؤر خان: رحمٰن بابا ژوند، تعلیمات او شاعري، جدون پرنټنګ پریس پېښور، ستمبر ١٩٩٧ء ، مخ ١٢٢.

## کتابیات


1. خټک، راج ولي شاه: د رحمان په شعر، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ٢٠٠٣ء.
2. د رحمان بابا کلیات (رحمان ادبي جرګه پېښور) څلورم چاپ ٢٠٠٧ء
3. داؤد، داؤر خان، پروفېسر: د پښتو د امروزو او محاورو لغت سېلاب، پښتو ادبي بورډ پېښور، وړومبے چاپ ٢٠١١ء.
4. داؤد، داؤر خان، پروفېسر: رحمٰن بابا ژوند، تعلیمات او شاعري، جدون پرنټنګ پریس پېښور، ستمبر ١٩٩٧ء.
5. د رحمان بابا کلیات، ترتیب، تحقیق او سمؤنه (دوست محمد خان کامل او قلندر مومند)، چاپزے پرنټرز، پبلشرز، بُکسېلرز ٢٤- دي مال پشاور صدر، ١٩٨٤ء
6. دري میاشتنی پښتو مجله "امېل" پېښور پښتو ادبي ټولنه رېګے سیمه پېښور او قلم پښتو ادبي جرګه مُلازے پېښور، (جنوري، فروري، مارچ ٢٠١٦ء) اتمه ګڼه،
7. رحمان ادبي جرګه پېښور: رحمان پوهنه (څلورم ټوک) ، ٢٠٠٩ء .
8. محمد اعظم اعظم: رحمٰن بابا د اولس شاعر، عظیم پبلشنګ هاؤس پشاور، د چاپ کال نۀ لري
9. محمد افضل رضا: پشتو لوک ادب، اکادمی ادبیات پاکستان، اسلام آباد، اشاعتِ اول فروری ١٩٨٩